مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سید عبیدالله نادر ۲۰۱۹/۰۸/۱۹

# د عبرت سترګې

چې مې پورته په غــرور کړل قــدمونه
لدې خــاورو، نه تر غوږ شول آوازونه

قدم رو ږده، ای نادانــه بـــې خـــــبره
چې کــکرې دي ،مخــــونه دي ،لاسونه

سترګي وغړوه خپلو پښو ته دي نظر وکړه، چې د هر قدم په اېښيدو او اوچتيدو کې، په زرهاوو جهان بيني سترګي ښکلي مړوندونه ، او رخسارونه پښو لاندې کيږي. په دې خاورو کې ډيرې هيرې افسانې پرتې دي، دلته د فهم او درک د پاره ډيره نرۍ لاره ده، چې د عبرت بين نظر دا کتلی شي. هغه انسانان يې ليدلای او پرې پوهيدلای شي، چې زړونه يې د معرفت په ځراغ روښانه وي او د بصيرت خاوندان وي.

هر ورقي د ګلشن کې، ستا حکمت دی
د بلــــبلو په ثنا کې، ســـتا صفت دی

په نظر د عـبرت بين په دې چـمن کې
هره پاڼه يې، ديــــوان د معـرفت دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ